الدرس السادس

الهجرة الي الحبشة

شپږم درس

د حبشو ته د مسلمانانو هجرت

اسلام چې چا قبول کړی وو، او مشرکانو ترى خبر وو نو هغوى ته به ئے ډیر تکلیفونه رسول، خاصکر د معاشرى هغه کمزوري صحابه کرام رضوان الله علیهم اجمعین ته نو رسول الله ﷺ دوي ته حبشو ته د نجاشي بادشاه خواء ته د هجرت اجازه ورکړه ، دا واقعه د نبوت په پنځم کال راغله، تقریباً اوویا (۷۰) کسانو د خپلو ښځو او بچو سره حبشو ته هجرت وکړو ، هجرت کونکو کښې عثمان بن عفان رضی الله عنه او د هغه کور والا رقیة بی بی د رسول ﷺ لور ورسره هم پدى سفر کښې ملګرى وه ، قریشو پوره کوشش وکړو چې حبشو کښې هم مسلمانان سکون باندى ژوند تیر نه کړى ، نو د نجاشي بادشاه په خدمت کښې مختلفې ډالۍ وغیره پیش کړى ، او دا مطالبه ئے وکړه چې دا خلق مکے والو ته حواله کړى، او مکے والو دا الزام ولګوو چې دا مسلمانان عیسى علیه السلام او د هغه مور ته بد رد وائى، نجاشي چې د مسلمانانو نه د حقیقت په باره کښې تپوس وکړو، نو هغوى جواب کښې قرآن ولوستلو هغه چې د عیسى او مریم علیهما السلام په باره کښې نازل شوى وو، نجاشي بادشاه چې قرآن کریم واوریدو نو د مسلمانانو د خبرے تائید ئے وکړو، مسلمانان ئے مکے والو ته د حواله کولو نه انکار وکړو، او پخپله د ایمان راوړلو اعلان ئے وکړو . **عجیبه واقعه** : ددى کال په رمضان کښې رسول الله ﷺ یوه ورځ مسجد حرام ته راغلو ، او د ټولو خلقو په مینځ کښې ئے د سورة النجم تلاوت شروع کړو چې قریش هم ګڼړ تعداد کښې موجود وو ، دى کافرانو مخکښې چرته هم د قرآن کریم تلاوت نه وو آوریدلے ځکه دوى خپل مینځ کښې دا لوظ کړى وو چې محمد ﷺ ته به غوږ نه ږدو ، کله چې ناساپي ددى خلقو مخکښې دقرآن کریم ددى مبارک سورت تلاوت شروع شو ، ددى په غوږونو ډیر عجیبه ولګیدو او قرآن ته غیر اختیارى متوجه شو ، کله چې رسول الله ﷺ ددى آیت (فَاسْجُدُوا لِلهِ وَاعْبُدُوا) النجم: ٦٢) ترجمه:دخپل رب مخکښې سجده وکړئ اودهغه عبادت وکړئ ، رسول الله ﷺ سجده وکړه نوټول په ټوله بے اختیاره په سجده باندى پریوتل .**هرقسم تعلق پریکول**: قریشو همیشه دپاره د نبى کریم ﷺ ددعوت هر قسمه مخالفت کولو، او هره ورځ به ئے نوى نوى انداز کښې تکلیفونه ورکول، دهمکیانئ به ئے ورکولے ، کله کله لالچ د مال او د ښځې ورکولو، دى ټولو تکلیفونو به مسلمانان په خپل باندى مضبوطول ، او د ایمان والو تعداد به ورځ په ورځ زیاتیدو، نو کافرانو د مسلمانانو خلاف یو نوى محاذ پرانستلو، خپل مینځ کښې ئے یوه معاهده ولیکله ، ټولو پدى اتفاق وکړو، او خانه کعبه کښې ئے آویزانده کړه ، چې د مسلمانانو او بنو هاشم سره به هر قسمه تعلقات ختم کړي شى، د دوى سره اخستل ، خرڅول ، نکاح ، او هر قسمه تعاون به ختم کړى شى، مسلمانان مجبورًا د مکے مکرمى نه بهر شعب ابى طالب ته نقل شول ، پدى ځائ کښې مسلمانو ته ډیر تکلیف وو ، لوږه او نور ډیر مشکلات وو، کوم مسلمانان چې مالداره وو ، هغوى خپل ټول مال په نورو مسلمانانو باندى خرچه کړو لکه خدیجه رضى الله عنها ، او دوي ته مرضونه ولګیدل ، او ډیر خلق مرګ ته نزدى شول ، لیکن ددى هرڅه باوجود مسلمانان مضبوط وو، او صبر ئے کولو ، یو تن هم د خپل دین نه روستو نه شو ، دا سلسله تر درى کالو پورى وه ، تردى چې قریشو کښې څو مشرانو ددى خلاف آواز اوچت کړو، دا خلق د بنو هاشم نزدى رشته دار وو، هغوى ښکاره ددى اعلان مخالفت وکړو ،کله چې دا معاهده د خانه کعبے نه رابهرکړه ، معلومه شو چې چینجو ټول کاغذ خوړلے وو ، صرف د الله نوم باقى وو، پدى طریقه سره د مشکل وخت ختم شو، بنو هاشم او مسلمانان مکے مکرمى ته واپس راغلل، لیکن قریشو په مسلمانانو باندى د ظلمونو سلسله جارى وساتله .